(c) ketabton.com: The Digital Library


# پنځم باب

# د تجارت په سامان کي زکوة

## که سره زر تر نصاب کم وه مګر قيمت يې د سپينو زرو نصاب ته رسېدی:

که د يو چا سره تر نصاب کم سره زر موجود وه مګر چي کله ئې قيمت معلوم سو د سپينو زرو نصاب ته رسېدل نوزکوة نسته او که چيري سره او سپين زر تر نصاب کم وه نو بيا سره زر د سپينو زرو سره ګډيږي بيا د سپينو زرو د قيمت له قراره و فقيرانو ته زکوة ورکول کيږي[1].

## د خاوند او ښځي په ګډو زرو کي زکوة:

که خاوند ښځي ته زر په ملکيت ورکړي وه او نصاب ته رسېدل نو زکوة ئې پر ښځي دئ او که خاوند عارية محض د استعمال لپاره ورکړي وه نو بيا زکوة پر خاوند دئ او که د دوی دواړو ګډ زر نصاب ته نه رسېدل پر يوه لا هم زکوة واجب نه دئ[2].

## په زرو کي په هر حالت کي زکوة:

سره زر يا سپين زر که ساده وي او که يو شی ځني جوړ سوی وي، که استعمال سوي وي او که نه وي استعمال سوي په هر حالت کي که نصاب ته رسېدل زکوة ئې واجب دئ[3].

---

[1] و لو ضم احد النصابين الى الاخر حتى يؤدي كله من الذهب او من الفضة لاباس به لكن يجب ان يكون التقويم بما هو انفع للفقراء قدرا او رواجا والا فيؤدي من كل واحد ربع عشره (هنديه: اول ټوک – ۱۷۹ مخ).

[2] و منها كون المال نصابا فلا زكوة في اقل منه (هنديه: اول ټوک – ۱۷۲ مخ).

[3] تجب..... مضروبا كان او لم يكن مصوغاً او غير مصوغ حليا كان للرجال او للنساء تبرا كان او سبيكة (هنديه: اول ټوک – ۱۷۸ مخ).

(c) ketabton.com: The Digital Library


### د زکوة په مال د یو چا پور لیري کول:

که پر یو چا باندي دولت جرمانه ایښې وي او هغه غریب وي نو د زکوة په پیسو د هغه غریب جرمانه لیري کېدلای سي خو په دې شرط چي غریب یې قبض کړي او بیا خپله جرمانه په لیري کړي[1].

### د تجارت مال:

د تجارت مال هغه مال دئ چي د خرڅولو په نیت رانیول سوی وي د هغه نصاب هم د نغدو نصاب دئ یعني د ټول مال قیمت که د دوپنځوس نیمو تولو سپینو زرو سره برابر وي یا زیات وي نو د کال تر تېرېدو وروسته څلوېښتمه حصه زکوة ادا کول واجب دئ[2].

### د تجارت د مال د زکوة طریقه:

په کومه ورځ چي د تجارت د مال کال پوره سي نو په هغه ورځ دي د تجارت د ټولو مالونو قیمت د فروخت (خرڅولو) په قیمت معلوم کړي او د کال په جریان کي یا اوس چي کومه ګټه ده هغه هم د دغه مال په قیمت کي شامله ده او که د تجارت څخه ماسوا په بله طریقه مال حاصل سوی وي لکه په میراث، هبه نو داغه دي هم ورسره یو ځای کړي بیا دي د ټول مال د مجموعې څخه دي څلوېښتمه حصه زکوة وباسي[3].

---

(1) و لو قضى دين الفقير بزكوة ماله ان كان بامره يجوز وان كان بغير امره لايجوز و سقط الدين (هنديه: اول ټوک – ۱۹۰ مخ).

(2) و اما اموال التجارة فتقدير النصاب فيها بقيمتها من الدنانير والدراهم فلا شئ فيها مالم تبلغ قيمتها مائتي درهم... فتجب فيها الزكوة (بدائع: دوهم ټوک – ۱۰۹ مخ).

(3) يقوم التاجر العروض او البضائع التجارية في آخر كل عام بحسب سعرهافي وقت اخراج الزكاة لابحسب سعرشرائها ويخرج الزكاة المطلوبة و تضم السلع التجارية بعضها الى بعض عند التقويم ولو اختلفت اجناسها ... (فقه اسلامي: دريم ټوک – ۱۸۷۱مخ).

(c) ketabton.com: The Digital Library


**په زکوة ورکولو کي پور باید د سرمایې څخه وباسي:**

د نغدو، سرو زرو، سپینو زرو، او د تجارتي سامان د قیمت فروخت (خرڅولو) وروسته دي واجب الاداء پو رڅني وباسي د پاته پیسو څلوېښتمه حصه دي زکوة ورکړي(1).

**جلا جلا هیڅ شی نصاب ته نه رسېدی:**

که د یو چا سره یو څه سره زر وه یو څه سپین زر وه او یو څه نغدي پیسې وې او یو څه د تجارت مال وو مګر جلا جلا یو شی لا نصاب ته نه رسېدی نو په دې صورت کي به ټوله سره یو ځای کوي که ئې قیمت دوپنځوس نیمو تولو سپینو زرو ته ورسېدی نو زکوة سته او که نه رسېدی بیا زکوة نسته(2).

**مال چي چیري وي د هغه ځای قیمت اعتبار لري:**

د زکوة په ادا کولو کي د هغه ځای قیمت اعتبار لري په کوم ځای کي چي مال موجود وي مثلاً یو سړی په هرات کي دئ او مال ئې په کندهار کي دئ نو د کندهار په قیمت به د خپل مال زکوة باسي(3).

**د مضاربت په مال کي زکوة:**

په مضاربت کي تر څو چي ګټه نه وي د مضارب سره پیسې امانت وي

---

وبای وجه استفاد ضمه سوا کان بمیراث او هبة او غیر ذالک ولو کان من غیر جنسه. (هندیه: اول ټوک- ۱۷۵ مخ)

(1) و لو کان له مال زکاة فقد صرح قبله بان الدین یصرف الی مال الزکاة. (ردالمحتار: دوهم ټوک - ۲۴۶ مخ).

(2) و قیمة العرض للتجارة تضم الی الثمنین لان الکل للتجارة و ضعا و جعلا ویضم الذهب الی الفضة قیمة (درمختار: دوهم ټوک - ۳۰۳ مخ).

(3) و یقومها المالک في البلد الذي فیه المال (هندیه: اول ټوک - ۱۸۰ مخ).

(c) ketabton.com: The Digital Library


او مال د اصلي مالک دئ زکوة ئې هم پر ده باندي دئ او که چیري ګټه وه او د هر یوه مضارب او اصلي مالک حصه و نصاب ته رسېدل بیا زکوة پر هر یوه واجب دئ[1].

**کوم شیان چي د تجارت لپاره نه وي:**

د شیانو د رانیولو په وخت کي د تجارت نیت ضروري دئ او که څوک د تجارت نیت نه وکړي شیان رانیسي بیا زکوة پکښي واجب نه دئ[2].

**په کتابو کي زکوة:**

په کتابو کي هغه وخت زکوة واجبېږي چي د تجارت لپاره وي، د ذاتي ضرورت لپاره چي کوم کتابونه دي په هغو کي زکوة نسته[3].

**په موټرانو کي زکوة:**

د موټر یا نور د خوارۍ د شیانو په قیمت کي زکوة نسته بلکي د هغوی څخه چي کوم آمدني حاصلېږي د کال تر تېرېدو وروسته زکوة پکښي واجب دئ[4].

**په پیسو او ګټه دواړو کي زکوة:**

که یو چا د کال په اول تاریخ کاروبار شروع کړی او د کال په آخر کي ئې ګټه کړې وه نو په سرمایه او ګټه دواړو کي زکوة واجب دئ، او که د

---

(1) و ان تعدد النصاب تجب اجماعا و يتراجعان بالحصص و بيانه في الحاوي فان بلغ نصيب احدهما نصابا زكاه دون الاخر الخ (درمختار: دوهم ټوک – ۳۰۴ مخ).

(2) ولو نوى التجارة بعد العقد و اشترى شيئا للقنية ناويا انه ان وجد ربحا باعه لازكوة عليه (درمختار: دوهم ټوک – ۲۷۴ مخ).

(3) و منها فراغ المال عن حاجته الاصلية ... وكذا كتب العلم ان كان من اهله وآلات المحترفين (هنديه: اول ټوک – ۱۷۲ مخ).

(4) و اما آلات الصناع الذين يعملون بها وظروف الامتعة للتجارة لاتجب فيه الزكوة لانها ليست بمعدة للتجارة (الكفاية مع فتح القدير: دوهم ټوک – ٦۵ مخ).

(c) ketabton.com: The Digital Library


کال په شروع او آخر کي سرمايه پوره وه مګر د کال په جريان کي سرمايه کمه سوه نو پر زکوة باندي کوم اثر نه کوي د کال په آخر کي به د ټول مال زکوة ورکوي[1].

## د ضرورت په مځکه کي د تجارت نيت وسي:

که يو چا مځکه د تعمير د جوړولو لپاره رانيولې وه او بيا ئې د تعمير د جوړولو په جريان کي د زکوة نيت وکړی نو د نيت تر مخه چي کومي پيسې ئې خرڅي کړي دي زکوة پکښي نسته او تر نيت وروسته چي کومي پيسې خرڅېږي د نورو پيسو سره به ئې يو ځای کړي او زکوة به ئې ورکړي[2].

## د ذاتي استعمال شی په ګټه خرڅول:

که يو چا د خپل ذاتي استعمال لپاره مثلا فريج وغيره رانيوی او بيا ئې په ګټه خرڅ کړی که دغه سړي د دغه تر مخه صاحب نصاب وو نو د فريج پيسې او ګټه دواړه به د نورو ګټو سره يو ځای کړي د کال تر تېرېدو وروسته دي زکوة ورکړي[3].

## د کراکري په سامان کي زکوة:

لوښي، دېګونه، خېمې او داسي نور شيان چي په کرايه ورکول کېږي

---

[1] و من کان له نصاب فاستفاد في اثناء الحول مالا من جنسه ضمه الی ماله وزکاه (هنديه: اول ټوک – ۱۷۵ مخ).

[2] لايبقی للتجارة ما اي عبد مثلا اشتراه لها فنوی بعد ذلک خدمته ثم مانواه للخدمة لايصير للتجارة وان نواه لها مالم يبعه بجنس مافيه الزکوة والفرق ان للتجارة عمل فلا تتم بمجرد النية (درمختار: دوهم ټوک – ۲۷۲ مخ).

[3] ومن کان له نصاب فاستفاد في اثناء الحول مالاً من جنسه ضمه الی ماله وزکاه. (هنديه: اول ټوک– ۱۷۵مخ)

(c) ketabton.com: The Digital Library


ته ورکول کېږي او ځلور حصې د دغه سړي سره پاته کېږي، د کال تر تېرېدو وروسته په دغه خزانه کي زکوة واجب دئ البته د پیدا کیدو په وخت کي زکوة نسته[1].

**یو څه د تجارت مال خرڅ سوی وي یو څه پاته وي:**

که په یو دوکان کي د شلو زرو سامان پروت وي د لسو زرو سامان خرڅ سوی وي او د لسو زرو سامان پروت وي نو د موجود سامان څلوېښتمه حصه دي ورکړي او یا دي ئې قیمت ورکړي او د پیسو دي څلوېښتمه حصه ورکړي[2].

**د چاپ پر کاغذ باندي زکوة:**

کوم کاغذ چي چاپخانې والا د چاپ لپاره ایږدي پر دغه کاغذ باندي چي نصاب ته رسېدلی وي زکوة واجب دئ ځکه چي دغه کاغذ د کتابو په حکم کي دئ د ماشینانو په حکم کي نه دئ[3].

**د طبابت په سامان کي زکوة:**

کوم سامان چي طبیب د دوکان د ښایست لپاره کار کړی وي مثلاً پردې، ګروپان، و غیره او یا ئې د دوا ایښودلو لپاره الماري جوړي کړي وي نو په دې سامان کي زکوة نسته او کوم سامان چي ئې د خرڅولو لپاره ایښی وي لکه دواوي او ښېښې او نور... نو په دې سامان کي چي

---

(1) ما یخرج من المعادن ثلاثة منطبع و مائع و ما لیس بمنطبع و لا مائع اما المنطبع کالذهب و الفضة و الحدید و الرصاص و النحاص و الصفر ففیه الخمس (هندیه: اول ټوک – ۱۸۴ مخ).

(2) و في عروض تجارة بلغت قیمتها نصابا (مجمع الانهر: اول ټوک – ۳۰۵ مخ).

(3) و اما اذا کان یبقي اثرها في المعمول کمالو اشتری الصباغ عصفرا او زعفرانا لیصبغ الناس باجر و حال علیه الحول کان علیه الزکوة اذا بلغ نصابا (هندیه: اول ټوک – ۱۷۲ مخ).

(c) ketabton.com: The Digital Library


نصاب ته ورسېږي د کال تر تېرېدو وروسته زکوة پر سته[1].

**د چاپ پر ماشينانو زکوة:**

د چاپ د ماشينانو په ذات کي زکوة نسته البته د دوی څخه چي کومه ګټه حاصلېږي او نصاب ته رسېدلې وي کال باندي تېر سي نو زکوة پکښي واجب دئ[2].

**د زکوة لپاره پر جمع سوو پيسو يا سامان زکوة:**

کومي پيسې يا سامان چي د يو چا سره جمع وي نو پر هغه پيسو يا سامان باندي زکوة واجب نه دئ ځکه چي دا د فقيرانو حق دئ او هغوی ئې تر اوسه پوري مالکان سوي نه دي[3].

**څو کلونه د تجارت د مال زکوة ادا نه کړي او هلاک سي:**

که يو چا مثلاً بوره د دې لپاره د بل چا سره ايښي وه چي ګرانه به سي او څو کاله په دغه انتظار کي وو خو هغه امين سړی مړ سو او وارثانو ئې د بورې ورکولو څخه انکار وکړ نو د تېرو سوو کلو زکوة پر دغه سړي واجب نه دئ[4].

**پر جنيتر، برقي ترانسفارمر يا ويلډنګ ماشين زکوة:**

که دغه ماشينان د تجارت لپاره وي زکوة پکښي واجب دئ او که د

---

[1] اصل هذا انه ليس على التاجر زكاة مسكنه و خدمه و مركبه و كسوة اهله وطعامهم .... العطار اذا اشترى قوارير فهوهكذا (تاتارخانيه: دريم ټوک – ۱۸۱ مخ).

[2] و آلات المحترفين هذا في الآلات التي ينتفع بنفسها ولا يبقى اثرها في المعمول (هنديه: اول ټوک – ۱۷۲ مخ).

[3] کفايت المفتي: ۳ – ۴ ټوکونه – ۲۵۸ مخ.

[4] و ان هلک المال بعد وجوب الزکوة سقطت الزکوة وفي هلاک البعض يسقط بقدره (هنديه: اول ټوک – ۱۸۰ مخ).

(c) ketabton.com: The Digital Library


کار او مزدوري يا د خپل استعمال لپاره وي بيا زکوة پکښي واجب نه دی[1].

## د حج لپاره پر جمع سوو پيسو زکوة:

د حج لپاره د جمع سوو پيسو څخه چي د تګ او راتګ، معلم، ټکټ وغيره پيسې ورکړي نو زکوة په دغه پيسو کي نسته، البته کومي پيسې چي په حج کي بيرته ورکول کېږي او کال باندي تېر سوی وي نصاب ته رسېدلي وي بيا زکوة پکښي واجب دی[2].

## د زکوة مال متفرق (جلا جلا) ورکول:

که څوک د خپل مال زکوة روزانه لږ لږ مسکينانو ته ورکوي نو دا طريقه صحيح ده او زکوة ئې ادا سو مګر ښه دا دی چي يوه مسکين ته ئې ورکړي[3].

## د رهنمايي په کار کي زکوة:

د راهنمايي په کار کي چي کله انسان مځکي، سرايونه، باغونه او نور څه د تجارت له پاره رانيسي نو د کال تر تېرېدو وروسته ئې په قيمت کي زکوة واجب دی[4].

---

[1] امداد الفتاوی: دوهم ټوک – ۴۲ مخ).

[2] اذا امسکه لينفق منه کل ما يحتاجه فحال الحول و قد بقی معه منه نصاب فانه يزکي وذلک الباقي الخ (ردالمحتار: دوهم ټوک – ۲۶۲ مخ).

[3] و شرط صحة ادائها نية مقارنة له اي للاداء ... او مقارنة بعزل ما وجب کله او بعضه (درمختار: دوهم ټوک – ۲۶۸ مخ).

[4] او فی عرض تجارة قيمته نصاب الجملة صفة عرض و هو هنا ما ليس بنقد (درمختار: دوهم ټوک – ۲۹۸ مخ، و فتاوی حقانيه: دريم ټوک – ۵۴۶ مخ).

(c) ketabton.com: The Digital Library


## شپږم باب
## عشر (يعني د پيداوار او يا حصول زكوة)

### د عشر تعريف:

عشر د مځكي د حصول زكوة دئ[1].

### د عشر معنى او مفهوم:

د عشر معنى لسمه برخه ده، نبي كريم ﷺ د عشري مځكي دوه قسمونه ښودلي دي:

**اول:** په يوه مځكه كي د حصول لسمه حصه ادا كول فرض دي.

**دوهم:** په بله مځكه كي شلمه حصه ادا كول فرض دي مګر د فقهاء كرامو په اصطلاح كي دواړه ډولو ته عشر ويل كېږي او عشر يو عبادت دئ ټيكس نه دئ[2].

### په آيتو سره د عشر اثبات:

وَءَاتُواْ حَقَّهُۥ يَوْمَ حَصَادِهِۦ (الانعام- ١۴١) په تفسير كي علامه جصاص د امت اتفاق پر دي خبره را نقل كړى دئ چي په دې آيت كي عشر مراد دئ[3].

### په حديث سره د عشر او نصف عشر اثبات:

كومه مځكه چي د باران اوبو اوبه كړې وي په هغه كي عشر دئ او

---

[1] اپ كے مسائل اور ان كا حل: دريم ټوك – ۴۰۸ مخ.

[2] يجب العشر هو واحد الاجزاء العشرة والمراد به هنا ينسب اليه لتشتمل الترجمة نصف العشر ... فيشمل العشر ونصفه الماخوذين من ارض المسلم (درمختار: دوهم ټوك – ٣٣٩ مخ).

[3] اتفاق الامة على وجوب الحق في كثيرمن الحبوب والثمار وهو العشر ونصف العشر ... وان ما اتفقوا عليه هو الحكم المراد بالاية (احكام القرآن للجصاص: دريم ټوك – ١٦ مخ).

(c) ketabton.com: The Digital Library


کومه مځکه چي په سلواغه یا بل شي سره اوبه سوې وي په هغه کي نصف عشر دئ[1].

**په اجماع سره د عشر اثابت:**

د ټول امت د عشر پر فرضیت اجماع راغلې ده[2].

**په قیاس یا عقل سره د عشر اثبات:**

عشر فقیر ته ورکول د نعمت شکر دئ او عاجز سړی د فرائضو پر کولو باندي آماده کوي[3].

**د عشر د ادا کولو تر مخه د حصول استعمالول:**

که چا د عشر (لسمي حصې) تر مخه حصول استعمال کړی یا ئې یو څه یو چا ته ورکړل نو د خپل عشر ضامن دئ چي پوره کوي به ئې[4].

**د عشر تر ادا کولو وروسته زکوة:**

د یو وار حصول د عشر تر ادا کولو وروسته زکوة یا عشر دوهم وار تر هغه وخته پوري نه دئ واجب تر څو چي ئې خرڅ کړی نه وي او که ئې حصول د عشر تر ادا کولو وروسته خرڅ کړ نو بیا زکوة په دغو پیسو کي د کال تر تېرېدو وروسته واجب دئ او که چیري دغه سړی تر مخه د نصاب خاوند وو او کال تېر سو نو بیا به د حصول د پیسو زکوة هم

---

[1] فیما سقت السماء والعیون او کان عشریا العشر و ماسقی بالنضح نصف العشر (صحیح البخاري: اول ټوک – ۲۰۱ مخ).

[2] و اماالاجماع فلان الامة اجمعت علی فرضیة العشر (بدائع: دوهم ټوک – ۱۷۰ مخ).

[3] واماالمعقول : لان اخراج العشر الی الفقیر من باب شکر النعمة واقدار العاجز وتقویته علی القیام بالفرائض (بدائع: دوهم ټوک – ۱۷۰ مخ).

[4] ولا یاکل من طعام العشر حتی یؤدي العشر و ان اکل ضمن عشره (درمختار: دوهم ټوک – ۳۳۲ مخ).

(c) ketabton.com: The Digital Library


ورکوي[1].

**عشر په لاندي شیانو کي واجب دئ:**

په عشري مځکه کي چي کوم شی د ګټي لپاره کرل سوی وي که لږ وي او که ډېر پر ټولو باندي عشر واجب دئ لکه غنم، وریجي، اوربشي، جواري، ترکاري، مېوه، خټکي، هندوانه، اوږه، پیاز، توری، کدو، بانجڼ، بینډی، مولۍ، خورما، چمبرخیال، بادرنګ، خاشخاش، تمباکو، زعفران، پمبه، آم او داسي نور شیان[2].

**د عشر څخه خرڅ نه ایستل کېږي:**

عشر د ټول حصول څخه ایستل کېږي داسي نه ده چي اول مزدوري، د ټکټر مصرف، او داسي نور مصرفونه مستثنی سي بیا عشر ادا کړل سي او د عشر د ورکولو تر مخه دولتي محصول هم نه ځني وضع کېږي البته تر کومه ځایه چي دغه حصول لېږدول کېږي د هغه خرڅ وضع کېږي[3].

**عشر ساقطېږي:**

که حصول هلاک سو او مالک هیڅ ډول کوتاهي نه وه کړې نو عشر ساقط دئ او که یوه حصه حصول هلاک سي نو د هغې حصې عشر ساقط دئ او د پاته حصول عشر ورکول لازمي دي[4].

---

[1] و اما زکاة الزروع والثمار وهو العشر (بدائع: دوهم ټوک – ١٦٩ مخ).

[2] و یجب العشر عند ابي حنیفة في کل ما تخرجه الارض من الحنطة والشعیر والدخن والارز واصناف الحبوب والبقول..... مماله ثمرة باقیة او غیر باقیة قل او کثر (هندیه: اول ټوک – ١٨٦ مخ).

[3] ولاتحسب اجرة العمال ونفقة البقر وکری الانهار واجرة الحافظ وغیر ذلک فیجب اخراج الواجب من جمیع ما اخرجته الارض عشرا او نصفا (هندیه: اول ټوک – ١٨٧ مخ).

[4] وماهلک بعد الوجوب بلا فعله سقط عنه عشره وبفعله یجب (تاتارخانیه: دوهم ټوک – ٢٥٢ مخ).

(c) ketabton.com: The Digital Library


**د طاقت لرلو سره زراعت نه کول:**

که یو څوک د طاقت سره بیا هم زراعت (کښت) ونه کړي نو عشر باندي لازم نه دئ[1].

**که حصول غلا سو:**

که د عشري مځکي حصول تر پرې کولو مخکي یا مېوه تر شکولو مخکي یا وروسته ضائع سوه یا غلا سوه نو عشر هم ساقطېږي[2].

**په کومو شیانو کي عشر نسته:**

پر داسي شیانو چي په زراعت کي کار نه ځني اخیستل کېږي زکوة یا عشر نسته لکه لرګي، وابښه، نلان او داسي نور...[3].

**که مسکین خپله د عشر مصرف وي:**

داسي مسکین چي خپله د عشر مستحق وي پر هغه باندي د عشر ورکول واجب نه دي[4].

**د عشر حساب د کوم وخت څخه دئ:**

کله چي مېوه یا کښت د دې قابل سي چي اطمینان په راځي نو د هغه وخت د حساب څخه عشر واجب دئ[5].

---

(1) تمکن ولم یزرع وجب الخراج دون العشر (درمختار: دوهم ټوک – ۳۳۳ مخ).

(2) و ما هلک بعد الوجوب بلا فعله سقط عنه عشره وبفعله تجب (تاتارخانیه: دوهم ټوک – ۲۵۲ مخ).

(3) و ان یکون الخارج منها مما یقصد بزراعته نماء الارض فلا عشر في الحطب والحشیش والقصب لان الاراضي لاتستمنی بهذه الاشیاء (هندیه: اول ټوک – ۱۸۶ مخ).

(4) زکوة کے مسائل کا انسائیکلوپیډیا: ص ۳۰۶.

(5) و اما وقت الوجوب فوقته وقت خروج الزرع وظهور الثمر عند ابي حنیفة الخ (بدائع: دوهم ټوک – ۱۸۶ مخ).

(c) ketabton.com: The Digital Library


**که حصول هلاک سو نو ضامن څوک دئ؟**

که مالک حصول هلاک کړي نو د هلاک سوي حصول ضامن مالک دئ او عشر پر ده باندي قرض دئ او که د مالک څخه ماسوا بل چا دغه حصول هلاک کړي نو مالک به د هغه څخه تاوان اخلي او عشر به ورکوي[1].

**د عشر مصرف (مستحق):**

د عشر مصارف ټول هغه مصارف دي کوم چي د زکوة دي لکه څنګه چي د زکوة د ادا کولو لپاره دا ضروري ده چي يو مسلمان، فقير د زکوة مستحق ته بې له کومي معاوضې په مالکانه ډول باندي قبضه ورکول دي نو د عشر د ادا کولو لپاره هم دغه طريقه ده[2].

**مځکه چي په کومو اوبو اوبه کېږي نو ....:**

که مځکه د باران په اوبو اوبه کېدل نو د حصول لسمه برخه ئې فقيرانو ته ورکول واجب دي او که مځکه د باوړۍ، برمې يا ئې په خپله اوبه کول نو د حصول ئې شلمه حصه و فقيرانو ته ورکول واجب دي[3].

**د عشر نصاب:**

د امام ابوحنيفه رحمة الله عليه رايه دا ده چي د عشر نصاب مقرر نه دئ

---

[1] فان استهلکه المالک ضمن عشره ويکون دينا في ذمته .... و ان استهلکه غير المالک اخذ الضمان منه و ادی عشره ... (بدائع: دوهم ټوک – ۱۸۸ مخ).

[2] اي مصرف الزکاة والعشر ... فقير .... ومسکين لاشئ له ... يشير الی وجه مناسبته هنا (درمختار: دوهم ټوک – ۳۳۹–۳۴۴مخونه). و يشترط ان يکون الصرف تمليکاً لا اباحة: دوهم ټوک – ۳۴۴ مخ.

[3] يجب العشر ... اي يفترض ... فان عامة المفسرين علی انه العشر او نصفه وهو مجمل بينه قوله صلی الله عليه وسلم ماسقت السماء ففيه العشر و ما سقی بغراب او دالية ففيه نصف العشر (ردالمحتار: دوهم ټوک – ۳۲۵ مخ).

(c) ketabton.com: The Digital Library


بلکي حصول که لږ وي او که ډېر په هر حالت کي ئې عشر ورکول واجب دي ځکه چي د قرآن مجيد او حديثو الفاظ د عشر په باره کي عام دي[1].

**عشر نه معاف کېږي:**

که د وخت حاکم يا د هغه نائب عشر و يو چا ته معاف کړي نو عشر نه معاف کېږي بلکي د ځمکي پر مالک ضروري ده چي خپله عشر وباسي او مستحق ته ئې ورکړي[2].

**پر قرض دار عشر سته:**

پوروړی به هم د عشري ځمکي د حصول څخه عشر باسي د عشر د وجوب لپاره پور مانع نه دئ[3].

**عشر په مرګ سره نه ساقطېږي:**

پر کوم چا چي عشر پاته وي د هغه په مرګ سره عشر نه ساقطېږي بلکي د هغه د پاته سوي مال څخه عشر ورکول لازم دي[4].

**په عشر کي قيمت ورکول:**

په عشر کي د حصول پر ځای قيمت ورکول جائز دي يعني د حصول د لسمي حصې پر ځای د لسمي حصې قيمت ادا کول جائز دي[5].

**عشر نه ورکوونکی ګناهکار دئ:**

عشر نه ورکوونکی ګناهکار او فاسق دئ البته د کومي غلې څخه

---

(1) وکذا النصاب ليس بشرط لوجوب العشر فيجب العشر في کثير الخارج وقليله ولايشترط فيه النصاب عند ابي حنيفة ... ولابي حنيفة عموم قوله تعالى ... (بدائع: دوهم ټوک – ۱۸۰مخ).

(2) زکوة کے مسائل کا انسائیکلوپیڈیا: ۳۰۹مخ.

(3) و يجب مع الدين (درمختار: دوهم ټوک – ۳۲٦ مخ).

(4) و يؤ خذ من الترکة (درمختار: دوهم ټوک – ۳۲٦ مخ).

(5) حتى يجوز اداء قيمته عندنا (بدائع الصنائع: دوهم ټوک – ۱۸٦ مخ).

(c) ketabton.com: The Digital Library


چي عشر نه وي ورکول سوی هغه غله حرامه نه ده بلکي حلاله ده[1].

**د عشر د واجب کېدو شرطونه:**

**اول:** اسلام، ځکه چي عشر عبادت دئ او کافر د عبادت اهل نه دئ.

**دوهم:** مځکه به عشري وي، د مځکي حصول به حاصل وي او که حصول موجود نه سي نو عشر ساقط دئ.

**دریم:** پر داسي وښو یا درختو چي خپله شنې کېږي عشر واجب نه دئ.

**څلورم:** د عشر د واجب کېدو لپاره د مځکي د مالک عقل او بلوغ ضروري نه دئ، که د مځکي مالک کوچنی یا لېونی وي او مځکه حصول وکړي نو عشر پکښي واجب دئ د کوچني یا لېوني پر سرپرستانو لازمه ده چي د حصول څخه ئې عشر ادا کړي.

**پنځم:** د عشر د واجب کېدو لپاره د مځکي ملکیت شرط نه دئ بلکي د مځکي عشري کېدل شرط دي لکه څنګه چي د وقف مځکي په حصول کي عشر واجب دئ همداسي که چا په عاریت، اجاره یا په کرایه باندي عشري مځکه اخیستې وه او په هغه کي ئې کښت کړی وي نو د هغه مځکي د حصول عشر د همدې سړی پر ذمه دئ د مځکي پر مالک نه دئ.

**شپږم:** د عشر د واجب کېدو لپاره کال تېرېدل ضروري نه دي په کال کي چي څو واره حصول وي هغومره واره عشر ادا کول هم ضروري دي.

---

[1] و اتوا حقه یوم حصاده (الانعام: ۱۴۱). ان موجبه الوجوب لاستحقاق الوعید لتارک الامر بالنص (نورالانوار: ۲۸مخ)، البته جس غله سے عشر نهیں نکالا وه حرام نهیں بلکه حلال هے (زکوة کے مسائل کا انسائیکلوپیڈیا: ۳۱۰مخ).

(c) ketabton.com: The Digital Library


**اووم:** که یو سړی پوروړی وي بیا هم عشر ادا کول لازمي دي د پور پیسې د حصول څخه نه کمېږي بلکه د ټول حصول څخه عشر ادا کېږي.
**اتم:** د عشر د واجب کېدو لپاره ضروري ده چې پر مځکه باندې واقعة کښت سوی وي که نه نو عشر نه واجبېږي ځکه چې عشر د حصول د یوې حصې نوم دئ.
**نهم:** هر هغه حصول چې د هغه څخه آمدني مقصود وي که غله وي او که مېوه عشر باندې واجب دئ ځکه نو په پالېز او باغ دواړو کې عشر واجب دئ[1].

**عشر د کوم حساب څخه ورکول کېږي:**

که یو څوک په خپل ښار کي عشر د غلې د جنس څخه ادا کوي خو ډېر ښه او که څوک دغه غله په بل ښار کي خرڅوي نو د هغه ځای قیمت اعتبار لري او عشر دي ورکړي[2].

**د را روان کال عشر تر مخه ورکول:**

عشر یا نصف عشر پر حصول واجبېږي د را روان کال عشر د واجب کېدو تر مخه ورکول نه صحیح کیږي او بیا ورکول یې ضروري دي[3].

---

(1) و شرط وجوبه نوعان الاول شرط الاهلية والاسلام (هنديه: اول ټوک – ۱۸۵ – ۱۸۶ مخونه. و في بدائع الصنائع: دوهم ټوک – ۱۷۱ – ۱۷۵ مخونه، و ردالمحتار: دوهم ټوک – ۳۲۴ – ۳۲۴ مخونه. و تاتارخانيه: دوهم ټوک – ۲۴۴ مخ).

(2) و يقوم في البلد الذي المال فيه ولو في مفازة ففي اقرب الامصار اليه (درمختار: دوهم ټوک – ۲۸۶ مخ).

(3) و وقته وقت خروج الزرع وظهور الثمر عند ابي حنيفة فلو عجل عشر ارضه قبل الزرع لايجوز (هنديه: اول ټوک – ۱۸۶ مخ).

(c) ketabton.com: The Digital Library


عشر واجبيږي[1].

**په ګني کي عشر:**

ګنی د مځکي مستقله آمدني ده ځکه نو عشر يا نصف عشر پکښي واجب دئ[2].

**په تمباکو کي عشر:**

په تمباکو کي عشر سته خو که يو څوک د تمباکو بلګونه په عشر کي ورکوي ورکولای ئې سي او که څوک ئې قيمت په عشر کي ورکوي نو اول دي د تمباکو څخه د عشر په اندازه بلګونه جلا کړي بيا دي ئې په هغه علاقه کي چي کوم ځای او سېږي قيمت کړي او مسکينانو ته دي ئې ورکړي[3].

**د کور په مېوه دارو درختو کي عشر:**

د کور دننه چي مېوه داره درختي يا سبزي وي په هغو کي عشر واجب نه دئ ځکه چي دا ټول د کور تابع دي[4].

**د کښت د مځکي چي شاوخوا مېوه داره درختي وي:**

که په يوه مځکه کي باقاعده کښت کېږي او شاوخوا ئې مېوه داره

---

[1] اما اذا اتخذ ارضة مقصبة او مشجرة او منبتا للحشيش وساق اليه الماء ومنع الناس منه يجب فيه العشر (الجوهرة النيرة: اول ټوک – ۱۵۱ مخ).

[2] و اما قصب فهو ثلثة انواع قصب السکر و قصب الذريرة و القصب ا لفارسي قصب السکر وقصب الذريرة فيهما العشر (الجوهرة النيرة: اول ټوک – ۱۵۱ مخ).

[3] في کل ما تخرجه الارض من الحنطة والشعير والدخن ... (تاتارخانيه: اول ټوک – ۲۷۶ مخ).

[4] رجل في داره شجرة مثمرة لا عشر فيها وان کانت البلدة عشرية (خلاصة الفتاوی: اول ټوک – ۲۴۷ مخ).

(c) ketabton.com: The Digital Library


درختي وي نو دداسي درختو په آمدني کي عشر نسته[1].

**د درختو په بلگو کي عشر:**

که په یو علاقه کي د درختو بلگونه خرڅېدل او رانیول کېدل بیا هم عشر پکښي نسته ځکه چي د عشر د وجوب لپاره د یو شي د غټېدلو قصد او نیت کول شرط دي او بل دا چي د درختي بلگونه په کښت کي مقصود هم نه وي[2].

**په پروړو کي عشر:**

په پراړه کي عشر نسته ځکه پروړ په کرلو کي مقصود نه دئ بلکي ضمني حاصلېږي که څه هم قیمت ئې زیات وي البته که په کرلو کي یوازي او یوازي پروړ مقصود وي بیا عشر سته[3].

**په ترکاري (سبزیجاتو) کي عشر:**

په سبزیجاتو کي عشر سته ځکه په اوسني وخت کي په لویو لویو گوداموکي ئې حفاظت کېږي او تر ډېر وخت پوري وي[4].

**په عام المنفعة کارونو کي د عشر پیسي مصرفول:**

عشر د صدقات واجبه څخه دئ او د بل چا تملیک (د هغه په اختیار کي ورکول) پکښي شرط دي او په عام المنفعة کارونو کي (لکه سړک،

---

[1] والبستان ما یحوطه حائط فیه نخیل متفرقة یمکن الزراعة وسط الاشجار و ان کانت الاشجار ملتفة لایمکن الزراعة في وسطها فهي کرم ولیس في الاشجار التي على المسناة شئ (بزازیه: څلورم ټوک – ۹۱ مخ).

[2] وان یکون الخارج منها مما یقصد بزراعته نماء الارض (البحر الرائق: دوهم ټوک – ۴۱۳ مخ).

[3] الا فیما لایقصد به استغلال الارض نحو حطب وقصب فارسي وحشیش و تبن و سعف الخ حتی لو اشتغل ارضه بها یجب العشر (درمختار: دوهم ټوک – ۳۲۷ مخ).

[4] و في الخضراوات التي لاتبقی وهذا قول الامام وهو الصحیح (ردالمحتار: دوهم ټوک –۳۲٦ مخ).

(c) ketabton.com: The Digital Library


يعني ربېل کېږي او خرڅېږي بيا عشر پکښي واجب دئ[1].

**د ځان لپاره په کرل سوي ترکاري کي عشر:**

عشر په هر هغه حصول کي سته چي د مځکي څخه راوزي که د ذاتي استعمال لپاره وي او که د تجارت لپاره ځکه نو د ځان لپاره په کرل سوي ترکاري کي عشر سته[2].

**په خپله راشنه سوو وښو کي عشر:**

په خپله راشنه سوو وښو کي که څه هم عشر نسته مګر که ئې عليحده حفاظت وسي او د پيسو ذريعه سي نو بيا عشر پکښي واجب دئ[3].

**په ځنګلو کي عشر:**

د ځنګل په درختو کي عشر نسته البته د خرڅولو په صورت کي يې که پر قيمت کال تېر سي او نصاب ته رسېدلي وي نو زکوة سته[4].

**په عشر کي کال تېرېدل شرط نه دي:**

په يوه فصل کي يوازي يو وار عشر واجب دئ د کال په تېرېدو سره عشر نه واجبېږي او که فصل يا پالېز هر وار راشين کېدی نو پر هر وار

---

[1] فلو استنمى ارضه بقوائم الخلاف وماشبهه او بالقصب او الحشيش وكان يقطع ذلک ويبيعه كان فيه العشر (ردالمحتار: دوهم ټوک – ٣٢٧ مخ). هكذا في فتاوى فريديه: دريم ټوک–٤٧٨مخ)

[2] و يؤخذ العشر عند الامام عند ظهور الثمرة و بد وصلاحها (درمختار: دوهم ټوک – ٣٣١ مخ).

[3] فلا عشر في الحطب والحشيش... ولوكان يقطعه ويبيعه يجب فيه العشر كذا في محيط السرخسي (هنديه: اول ټوک – ١٨٦ مخ).

[4] و كذا لا عشر فيما هو تابع للارض كالنحل والاشجار لانه بمنزلة جزء الارض لانه يتبعها في البيع (البحرالرائق: دوهم ټوک – ٤١٥ مخ).

(c) ketabton.com: The Digital Library


**دوهم:** او که یوازي مځکه خرڅه کړي او فصل پوخ سوی نه وي او رانیوونکي دستي د مځکي څخه فصل جلا کړي نو عشر پر خرڅوونکی دئ.

**دریم:** که رانیوونکی دستي فصل جلا نه کړي بلکي فصل لا پاته وو او مځکه یې د حصول سره واخیستل نو عشر پر رانیوونکی لازم دئ(1).

**عشر پر مالک دئ که پر اجاره دار:**

یو څوک چي خپل شخصي ملک چا ته په اجاره ورکړي دا دوه ډوله لري:

**اول:** اجرة مثل کامل ځني واخلي یعني که دغه اصلي مالک د دغه اخیستل سوي اجرة څخه عشر یا خراج ورکړي او بیا هم ده ته کافي ګټه پاته سي چي په دومره ګټه باندي نور خلګ هم په اجاره ورکولو راضي وي نو په دې صورت کي عشر پر مالک دئ.

**دوهم:** اجرة مثل کامل نه ځني واخلي یعني که مالک د دغه اجرت څخه عشر ورکړي نو ده ته به منفعت یا پاته نه سي یا به لږ پاته سي نو په دې صورت کي عشر پر مستاجر دئ(2).

**که د اوسېدلو په کور کي څوک باغ کښېږدي نو...:**

که د یو چا د اوسېدلو کور وي او په صحن کي یې باغ کښېږدي نو په هغه

---

(1) و اذا باع الارض العشرية وفيها زرع قد ادرک مع زرعها او باع الزرع خاصة فعشره على البائع دون المشتري ولوباعها والزرع يقل ان فصله المشتري في الحال يجب على البائع و لو ترکه حتى ادرک فعشره على المشترى (هنديه: اول ټوک – ۱۸۷ مخ).

(2) والعشر على المؤجر..... وقالا على المستاجر . فان امکن اخذالاجرة کاملة يفتى بقول الامام والا فبقولهما لما يلزم عليه ... (الدرالمختار مع ردالمحتار: دوهم ټوک – ۳۳۴ مخ). (هکذا في امداد الفتاوى: دوهم ټوک – ۵۸ مخ) (و احسن الفتاوى: څلورم ټوک – ۳۴۷ مخ).

